عبدالله خان
۲۰۱۲/۰۲/۱۴

# تسليمېدونکي طالبان څوک دي؟

دوه زره درييم ميلادي کال وو چې  په کابل کی می د لومړي ځل لپاره د سټيوشاليز امريکايی نوم واوريدی.
سټيو شاليز (Steve Shaulis) د منځنی آسيا پرمختيايی ګروپ  (CADG Central Asia Development Group) مشر وو، د امريکا د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايی موسيسی (USAID)  لخوا د ساختماني پروژو ترڅنګ ډول ډول لوی او واړه تړونونه ورکول کيدل.
د اشغال په لومړيو کلونو کی د امريکا د متحده آيالاتو د استخباراتو لوړ پوړی چارواکی افغانستان ته راغی، د هغه د سپرلی الوتکه  په بګرام کی کښته شوه او  هلته يی يواځي له سټيو سره وکتل. دغه  د امريکا د  استخباراتو لوړپوړي چارواکي د افغان دولت له هيڅ يوه مأمور سره ونه کتل، ډير لږ وخت يی په بګرام کی درلود چی دخپل ارزښت ناک وخت ډيره برخه يی د سټيو سره په ځينو خبرو او مسايلو تيرکړ. له څنډ وروسته يی بيرته الوتکه له بګرام څخه  والوتله او د افغانستان له خاوري ووتی.
له دي څخه ښه  ځرګنديږي چی سټيو شاليز د امريکا استخباراتو (CIA) ته څومره مهم شخص وو او دی. له دغه لنډي ليدني وروسته د منځنی آسيا پرمختيايی ګروپ  مؤسيسي ډير تيز پرمختګ وکړ، او د امريکا د متحده ايالاتو د نړيوالي پرمختيايی موسيسی (USAID)  له لوري د هيواد په جنوبي برخو (کندهار، هلمند، ارز ګان او زابل) کی د بزګرانو سره د  مرستي تر نوم لاندي پروژی ورکول شوی. سټيو تور پوستی امريکايی دی، داچی په امريکا کی تورپوستي امريکايان غريب او په حکومت کی هم  د اوباما له راتګ څخه مخکی په سمه سترګه ورته نه کتل کيدل. سټيو ته طلايی چانس وو چی په افغانستان کی د سي آی ای  لپاره د خدمت په بدل کی د ښو شتو څښتن شي. دامريکا په ځينو ښارونو کی داسي هوټلونه وو چی د تورپوستو په ورتګ بنديز لګول شوی وو، کله چی نړيوال څوک وهونکي محمدعلي (وکلي) نړيوال مډال ترلاسه کړ، هغه داسي هوټل ته ورغی چی د تورپوستو په ورتګ بنديزوو، هوټل ته له ننوتلو څخه منع شو، محمدعلي کيلي په نړيواليو سياليو کی د سروزرو ګټلی مډال د  هوټل  په مخ کی  دچټلو اوبو لښتي ته وغورځاوو او ويی ويل چی:  موږ د امريکا لپاره ښه نوم ګټو او نړيوالي قهرماني ترلاسه کوو خو د سپين پوستوامريکايانو  هوټل ته د ننوتلواجازه نه لرو، د همدي تعصبي چلند له امله زه هم خپل ګټلی نوم او مډال د چټلو اوبو لښتي ته غورځوم.
سټيو شاليز ډير ژر په يادو ولايتونو کی د  ډيرو نامنو ولسواليو په کليوالو سيمو کی د بزګرانو سره د مرستي په نوم ساحوي (سيمييز) دفترونه خلاص کړل.
په کندهار کی يی د ډنډ، پنجوايی ، دامان، شاوليکوټ ولسواليو په کليو او ځينو نورو سيموکی دفترونه  خلاص کړل.
په هلمند کی يی د  نادعلي، ناوه، نهرسراج ولسواليو په کليو او نورو سيمو کی دفترونه درلودل، دا ډول په ازګان کی يی په چوره او خاص ارزګان کی په کليوکی دفترونه خلاص کړل.  د  زابل ولايت په ميزانه، سيوري او شملزو کی يی ورته دفترونه درلودل.
سټيوشاليز ددي پرځاي چی د ولسوالي په مرکز کی دفتر پرانيزي، نوموړي دفترونه يی د ولسواليو په اړوندو کليو کی پرانيستل، په کليو کی  يی داسي کلي انتخاب کړل کوم چی د طالبانو د نظام د وخت لوړپوړو چارواکو د اوسيدو کلي وو.
د سي ای ډي جی  موسيسي مرکزی دفتر په کندهار کی وو، دا ډول يی په لښکرګاه، ترينکوټ، او قلات کی د ولسواليو د کليوالو دفترونو د انسجام لپاره ولايتي دفترونه درلودل.
په کابل کی يی هم دفتر درلود، خو سټيو شاليز به کله ناکله د کابل دفتر ته راتلی او ډير وخت به خپله د کندهار په دفتر کی اوسيدی. هغه په لنډ وخت کی دومره پرمختګ وکړ چی د خپل ځان او دفتر لپاره يی ولايتونو او ولسواليو ته د اړتيا په وخت کی دتګ راتګ لپاره ځانګړي الوتکه هم له بهر نه  په مياشتنی کرايه نيولي وه، تر څو په خوندي ډول د سي ای ډي جي  کارکوونکي له يوه ځايه بل ځای ته انتقال کړي.
سټيو شاليز ډير وخت سفرونه په خپل ځانګړي موټر کی کول.  هغه به هروخت په کندهار، هلمند، ارزګان او زابل کی کليوالو سيمو ته سفرونه کول. داسي سيمو ته به يی تګ راتګ کاوه چی د هغي سيمي ځينو پيژندل شوو خلکو تګ راتګ ورته نشوای کولای.  هغه د  کندهار ولايت خاکريز ولسوالي، شاوليکوټ، پنجوايی او نورو ولسواليو ته پرته له ويري او ډاره  سفر کاوو، دا ډول يی د ارزګان ولايت خاص ارزګان او چوري ته تګ راتګ کاوو.
د  هلمند ولايت  نادعلي، نهرسراج ، ناوه  بارکزايی او نورو ولسواليوکی يی کليو ته تګ راتګ درلود. هلته يی له خلکو سره ليدني کتني کولي او دا ډول يی په ځينو کليو کی دده سره د افغان کارکوونکو په  مرسته  په لنډ وخت کی خواخوږي هم پيداکړل.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د زابل ولايت ډېرو ناامنو اوخطرناکو ولسواليو (ميزانه، سيوری، شملزايی، اتغر او ...) ته به يی يواځي بی له ساتونکو او مسلح کسانو تګ راتګ کاوو، په يادو ولسواليو کی به يی په کليو کی له خلکو سره ليدني کتني کولي او دهغوی نظرونه او وړانديزونه يی اوريدل، پاتي دي نه وي چی دغو سيمو ته په دی پلمه تلی چی په ښکاره يی د بزګرانو سره د مرستي پروژي په مخ وړلی، خو په حقيقت کی تر کاسه لاندي نيم کاسی وو.

له همدغه وخته ستيو شاليز وکولای شول چی په يادوو سيمو کی د طالب په نوم خلک پيدا، او منسجم کړي ترڅو په راتلونکی او مناسب وخت کی له دغو خلکو څخه کار واخلي.

زه نه وايم چی يواځي ستيو شاليز د طالب په نوم د ځوانانو پيداکولو کار او انسجام د زراعتي پروژو ترنوم لاندي کاوه. ډيري داسي نوري کورنی او بهرني موسيسي به نوري هم وي چی دغه ډول کارونه يی د بيارغاوني او مرستي ترنوم لاندي کول.

د دوه زره څلورم کال په لومړيو مياشتو کی د يو اس پی آی (USPI – United State Protection and Investigation) دامريکا د متحده آيالاتو دساتني او څارني اداري هم دنورو کارونو تر څنک ورته کار له نورو سره په همږغي دهيواد په جنوب کی پيل کړ. په ښکاره USPI د USAID سره د اړوندو امريکايی کمپنيو د کارکوونکو د ساتني او محافظت کارونه کول، خو په اصل کی يی په پټه په کليوالو سيمو کی د امريکايانو لپاره جاسوسان پيداکول. دا ډول يی د افغان کارکوونکو په مرسته په کليوالو سيموکی خلک په نښه کول چی په راتلونکی کی د معاش ورکولو په بدل کی ددوی لپاره کار وکړي.

د ۲۰۰۴ کال په نيمايی کی USPI په بيلابيلو سيمو کی خپل جاسوسان درلودل چی د طالبانو په اړه به يی ددغي کمپنۍ کارکوونکو ته معلومات ورکول. په همدغه وختونوکی د طالبانو ډير کم او په شمار فعاليتونه په هلمند، ارزګان او کندهار کی پيل شوی وو، طالبانو د ګوتو په شمار واړه ګروپونه درلودل چی په يادوو دريو ولايتونو کی دغو ګروپونو د نوموړو يو له بل سره تړلو ولايتونو په سرحدي پولو کی دوراني تګ راتګ درلود.

د ۲۰۰۴م کال تر پايه CADG هم وتوانيده چی خپل د خوښي ځوانان په نښه او د اړتياپه وخت کی يی په دنده وګماري.

د ۲۰۰۵ کال په پيل کی له يادو ولايتونو څخه ځينی کليوال ځوانان چی ښايسته کوچنۍ ژيري او طالبانو ته ورته قواري يی درلودلی، د ځينو خو يی تور پاج لنګوټي هم په سر وی، په کندهار کی د ملا محمد عمر آخند کور (د سي آی ای او ځانګړو ځواکونو د لوړ رتبه چارواکو دکار او اوسيدوځای) ته راوستل شول.

دملامحمد عمرآخند په کور کی د سي آی ای له لنډي روزني وروسته دغه نوي ځوانان پاکستان ته ددي لپاره واستول شول چی هلته په کويټه او کراچۍ کی په بيلابيلو مدرسو کی شامل او په مدرسو کی دننه د سي آی ای لپاره د طالبانو په منځ کی کار وکړي.

دغی لړۍ دوام درلود، دکندهار څخه ګڼ شمير ځوانان د طالبانو په جامه کی د سي آی آی تر لنډي روزني وروسته کويټي او کراچۍ ته واستول شول، ترڅو د بهرنيانو لپاره دجاسوسي کارونه پرمخ يوسي.

په وروسته کلونو کی ورته کار سی آی ای په جنوب ختيځ او ختيځو ولايتونو کی وکړ، دا ډول يی ترټولو وروسته په شمال (بغلان، کندز او ...) کی ولايتونو کی خپلو جاسوسانو ته د طالب په نوم روزنه ورکړه.

که څه هم طالبان ډير ژر د سي آ ی ای له دغه ډول پلان څخه خبر شول، ولي د سي آی ای له خوا د طالب په نوم ورليږل شوو جاسوسانو مخنيوی او پيژندنه ګران کار وو، پخوا هم د پاکستان مدرسو ته له يادو سيمو څخه طالبان د زده کړي لپاره ورتلل او هلته به يی زده کړي کولی. طالبانو او دپاکستاني مدرسو مشرانو نه شوای کولای چی په يومخيز ډول د افغانستان څخه په نويو ورتلونکو طالبانو مدرسو ته په داخليدو بنديز ولګوي، دا ډول دمدسو او طالبانو مشرانو نه شوای کولای چی اصلي طالب او جاسوس طالب سره بيل کړي.

په ۲۰۰۶ م کال کی د سي آی آی روزل شوو طالبانو ننوتل د طالبانو په ليکو کی عملاً وليدل شول، په کندهار، هلمند او زابل کی ځينی داسي پيښي وشوي چی لوړ پوړي طالب مشران ددوی سره په ډله کی د طالب په نوم اوسيدونکی جاسوس په مرسته د امريکايانو لخوا په نښه او له منځه يو وړل شول. داسي پيښي هم وشوي چی طالب مشرانو په ځينو ګروپونو کی د طالب په نوم جاسوسان له سټلايټ ټلفون او نورو جاسوسي سامان آلاتو سره په خپلو مرکزونو کی پيداکړل.

ددغه ډول جاسوسانو په واسطه د طالب مشرانو له منځه وړلو ترټولو لويی پيښی يی په کندهار کی د ملاشهزاده، په ارزګان کی د ملا پای محمد، په زابل کی د ملاروزي خان مظلوم يار او په هلمند کی ملا دادالله يادولای شو.

کله چی په ۲۰۰۹ م کال کی د جمهور رئيس ټاکلو او بيا وروسته په ۲۰۱۰ م کال کی د پارلماني ټاکنو لپاره انتخابات کيدل. په شمال کی پخوانيو توپکسالارانو خپل ملګري د انتخاباتو د ګټلو او زياتي ونډي ترلاسه کولو لپاره د طالب په نوم مسلح کړل، چی په ځينو ولايتونو کی دغه کار د واليانو او امنيه قومندانانو په مرسته ترسره شو. دغو دولتي چارواکو غوښتل چی د توپکيانو څخه د طالب په نوم ګټه پورته کړي او په شمال کی د پښتنو هغه مشران چی د ښاغلي حامد کرزي لپاره کمپاين کوي او په انتخاباتو کی د کرزي ملاتړي دي د همدغو پخوانيو توپکيانو او نويو طالبانو پواسطه له مخي ليري کړي.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دا ډول یې د پارلماني ټاکنو د کمپاین په وخت کې په شمال کې د پښتنو کاندیدان پرینښودل چې د دوي په ډول په ازادانه ډول او ډاډه زړه کمپاین وکړي، بکله په هغه وخت کې یې ډیري پیژندل شوی پښتانه د همدغو پخوانیو توپکمارو نویو طالبانو پواسطه ووژل.

په شمال کې د طالب په نوم پخواني توپکیان مسلح کول رسنیو په هغه وخت کې په وارو وارو په شمال کې د پښتنو مشرانو له خولي خپاره کړل. او دغه تور تر نورو زیات د بلخ په والی عطاءمحمد نور وو.

پاتي دي نه وي چې د جمهوري ریاست او پارلماني ټاکنو لپاره د کمپاین په وخت کې د پښتنو ګڼ شمیر مشران د نامعلومو کسانو له خوا په شمالي ولایتونو کې له منځه یوړل شول.

د سي آی ای له خوا د طالب په نوم جاسوسان او په شمال کې د خپلسرو توپکیانو مسلح کول د طالبانو په نوم پخپل حال پاتي شول، داسي ونه شول چې تر ریاستی او پارلماني ټاکنو وروسته هغه د طالب په نوم توپکیان بیرته خالي سلاح شوی وای.بل خوا بهرنیانو هم پاکستان ته خپلو لیږل شوو او په هیواد کې د ننه خپلو وفادارو او روزل شوو جاسوسانو ته چې د طالب په نوم یې په دغه ډله کې ننویستلی وو اړتیا درلودله.

او س چې دامریکا په مشري ناټو له ماتي سره مخ ده، ورځ په ورځ یې د ملګرو هیوادو ائتلاف کمزوری کیږی، امریکا ته په کور دننه ګڼ شمیر مخالفتونه او ستونزي پیدا شوی دي.

بل خوا ناټو ونه توانیده چې په لسو کلونو کی افغانانو ته له فساد او اختلاس څخه خلاص دولت وړاندي کړي. رشوت ورځ تربلي په تیرو لسو کلونو کی د بهرنیانو او افغانانو لخوا څخه مخ په زیاتیدو وو. د نښئی توکو کښت زیات او قاچاق یې د لوړپوړو بهرنیانو او افغانانو له خوا کیدی او کیږی. په قضاء د ولس باور له منځه تللی، ځکه دهر قاضي چوکۍ د پیسو په مقابل کی خرڅیږي، او کله چې قاضي چوکۍ اشغال کړي نو بیا په رشوت اخستو کی محدودیت پری نه وی.د ملي پولیسو په لیکو کی اختلاس دي حد ته ورسیدی چې دګڼ شمیر پولیسو نومونه به د کورنیو چارو د وزارت په کتابونو کی ثبت شوی ووخو عملاً به پولیس وجود نه درلودی، په غلا د ثبت شوو پولیسو معاش او امتیازات به د لوړ پوړو چارواکو جیبو ته تلی.

دکورنیو چارو او دفاع وزارت اړوند لوړي چوکۍ د پیسو په مقابل کی د لوړ پوړو چارواکو له خوا د معلومي نیتي لپاره خرڅیږي، کارا هل کار ته نه سپارل کیږي یواځي خبره د پیسو ده.

دکابل بانک رسوایی چې د ښاغلي جمهوررئیس ورور، د جمهور رئیس د لومړي مرستیا ل ورور او د کابل بانک مشر قدیر فطرت د اختلاس او غلا له امله ډیوالی شو، نور نو امریکا او ناټو ته ددي ځای پاتي نشو چې اوسنی دولت به د سمي په لور د تګ توان ولري.

داډول افغانستان ته راغلو بهرنیانو په لوړقیمت لرونکو پروژو کی په پریمانه پیمانه اختلاس وکړ، د امریکا دمتحده ایالاتو د څارني راغلي هیئت هم ومنله چې د پروژو له امله په اختلاس کی بهرنیان په لوړه کچه ککړ دي.

داچې د سي آی ای د طالب په نوم ګمارل شوي جاسوسان او په شمال کی د طالب په نوم مسلح شوي پخواني توپکیان ولي اوس د طالب په نوم د سولي له پروګرام سره یوځای کیږي؟ ولي دغه د طالب په نوم ګروپونه په هغه وخت کی له دولت سره نه یوځای کیدل چې په پرتلیزه توګه طالبان کمزوري او ناټو قوي وه؟ اوس چې طالبان واکمن او ځواکمن ښکاری نو بیا ولي د طالبانو ډلي له دولت سره یوځای کیږی؟ دا هغه سوالونه دي چې د پورته څیړني په نظرکی نیولو سره ویلای شو چې د طالب په نوم تسلیمیدونکی ډلي د سي آی ای روزل شوی او په شمال کی مسلح شوي پخواني ټوپکیان دي.

سي آی آی او د امریکا حکومت پریکړه کړی ده چې په افغانستان کی ګټونکي نه دي، د ۲۰۱۱ کال ناټو ټاکوونکی کال نومولی وو، بخت یاري ورسره ونه کړه او ۲۰۱۱ کال د طالبانو په ګټه تمام شو، امریکا د ۳۰۰۰۰ اضافي پوځیانو په رالیږلو، د طالبانو د مشرانو تعقیبولو او له منځه وړلو، د طالبانو نیولو او معیوبولو، د بی ګناه افغانانو شکنجه کولواو ددي فارمول په وړاندي کولو چې طالبان یواځي د زور او فشار په کارولو سولي ته راکش کولی شی، ناټو د زیات ځواک او وحشت کارولو سره سره ونه توانیدل چې طالبان کمزوري کړي او ددوي په اصطلاح تسلیم شي او ددوی د خوښي د سولي شرایط ومني.

د ۲۰۱۱ م کال په اوږدو کی سي آی ای د خپلو جاسوسانو جیبونه ښه ورډک کړل، افغان جاسوسانو هم د طالب په نوم د زړه له کومي خدمت ورته وکړ، د طالبانو ډیری مشران ددوی د جاسوسي له امله د امریکا په بمباریو او چاپو کی له منځه یوړل شول.

داچې امریکا او ناټو پوهیدلي ده چې په افغانستان کی ګټونکي نه دي، امریکا د اقتصادي بحران سره مخ ده، د امریکا د دفاع وزارت د بودیجي د کمښت سره لاس او ګریوان ده، په ۲۰۱۲ م کال کی به تر سل زرو پوځیان له دندو شړي. دهمدي حالت په نظر کی نیولو سره نور نو سي آي ای هم ددي توان نه لري چې د طالب په نوم خپلو روزل شوو افغان جاسوسانو ته میاشتني لګښت او معاش ورکړي.

سي آی ای ددي له پاره چې د طالب په نوم د افغان جاسوسانو سره یې یوڅه مرسته کړی وی، بل خوا هغوی پوهیږي چې دسولي په نوم ډالر چې د سولي عالی شوری ته ورکول شوی هڅي هم حیف او میل کیږي، په یوه ټک یې دوه ښکار وویشتلی.



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اول: داچې د سولې دعالي شورى د ډالرو څخه خپل جاسوسان برخمن او كه په راتلونكي كې اړتيا همدغو د طالب په نوم جاسوسانو ته امريكا پيداكوي، نو د سى آى اى وروستي د ډالرو احسان به يې په سترګو کې وي او بيا به ددوى غلامي او جاسوسي ته د اړتيا په وخت كې زړه ښه كړي.
دوم: داچې په كورنيو او نړيوالو رسنيو كې وښيې چې د سولې د پروګرام سره ډله ډله طالبان يوځاى كيږي. ترڅو طالبانو ته تشويش پيدا كړي او حد اقل طالبان په دې وويروي او په اخر وخت كې خپل ځينى شرايط پرې ومني. له بلې خوا به ناټو او امريكا خپل ولس ته داهم ووايي : هغه ډالر چې د سولې لپاره د افغانستان د سولې عالي شورى ته وركول شوى دي. د هغو په نتيجه كې دادى طالبان تسليميږى، او داډول به ناخبره افغانان هم په دي وغولوي چې د دولت سره د طالبانو ډلي يوځاى كيږي او طالبان كمزوري كيږي.
ماته كټ مټ د ډاكټر نجيب د حكومت وروستنى ورځې او شپې رايادېږي، چې ورته اعلانونه به د كابل راډيو څخه خپريدل چې په پلاني ولايت كې دمجاهدينو (مرورو ورونو) څو كسيزه ډله د افغانستان د حكومت سره يوځاى شول، او په پلاني ولايت كې دومره او ... له حكومت سره يوځاى شول.
داچې د شمال ټلوالي د طالب په نوم مسلح شوي هم بې برخې پاتې نشي، ځكه كه اوس پاتې شول بيا به دا د ډالرو د ويش څخه برخمن نه شي، مشرانو يې پريكړه وكړه چې نور نو د جمهوري رياست او پارلماني ټاكنو نتيجې معلومې، او په شمال كې يې په نښه شوي پيښتانه مشران له منځه يوړل، او ترټولو لوى تاوان د عام ولس په ځير دوى ته هم اربكيانو وكړ، ځكه اربكيان په سيمه كې بلد او د هغو سيمو اوسيدونكي دي، نور نو د طالب په نوم د شمالي ټلوالي مسلح شوي توپكيان د اربكيانو څخه هم په ويره كې وو. پورته لاملونه دي چې همدغه د شمالي ټلوالي پخواني توپكيان چې د خپلو ګټو لپاره يې د طالب په نوم مسلح كړي وو نور بايد د امريكا داخرني ډالري خيرات څخه بې برخې نه شي.
پورته دوه ډلي (دسي آى اى جاسوسان او په شمال كې خپلسري توپكيان) دي چې د طالب په نوم يې دهغوى مشران د سولې دعالى شورى ترنوم لاندې د دولت د سولې د پروګرام سره يوځاى كيدل اعلانوي.
د موضوع د ښې روښانتياپاره يې په روانه مياشت كې دغزني ولايت د ده يک ولسوالی (ډير اوسيدونكي يې تاجک دي) څخه دطالبانو په نوم د څوكسيزې ډلي تسليميدل يادولاى شو. دغزني ښاغلي والي وويل چې طالبان دي، دغزني امنيه قومندان خبره رد كړه او ويې ويل چې دا ډله طالبان نه دي، دسيمې اوسيدونكو وويل چې په ده يک ولسوالي كې اصلا په دغه نومونو موږ طالبان نه پيژنو او نه هم په دغه سيمه كې چې دغه كسان وړپوري تړل شوي د طالبانو كومې ډلي شتون درلود.
طالب او مجاهد چې په سخت او كمزوري وخت كې دولت ته تسليم نه شو، څنګه كيداى شي چې په ښه اود ځواک او قدرت په وخت كې له كمزوري او فاسد دولت سره يوځاى شي؟
آيا د طالب او مجاهد په نوم تسليميدونكي كسان نه پوهيږي چې مجاهدين د كاميابيدو په درشل كې دي؟ او د مجاهدينو له كاميابيدو وروسته به ددوى سره حساب كتاب كيږي؟ آيا دغه تسليميدونكي كسان نه پوهيږي چې دوى له يوه كمزوري ، فاسد او ولس ته نامنلي دولت سره يوځاى كيږي؟
هو! دوى او موږ ټول ښه پوهيږو خو بيا هم ځواب دادى چې د مشرانو له خوا ورته ويل كيږي چې د طالب په نوم د سولي له پروګرام سره يوځاى شئ ترڅو مجاهدينو او ولس ته ډول ډول تشويشونه پيداشي.

پاى


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليكنې د ليكنيزې ښې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولئ